PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اوونیزه

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

او مومنان چې کله هم د الله او دهغه د رسول په لور وبلل شي چې رسول دهغوی په مینځ کې فیصله وکړي نو وايي: مونږ بلـنـه واورېده، او ومو منله، او خلاصون د همدوی په برخه دی. او هغه کسان چې د الله او رسول مننه وکړي او له الله نه وډار شـي او لـه سرغړونې څخه یې ځان وژغوري نو همدوی بریمن دي. (النور: ۵۱ - ۵۲ آیتونه)

درس حدیث

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي:

څوک چې د خلکو ترمنځ د روغې جوړې کارونه کوي نو الله تعالی دهغه هر کار جوړوي او دهغه د هرې خبرې په بدل کې ورته د یو غلام د آزادولو ثواب ورکوي او مخکیني ګناهونه یې بخښي. (ترغیب)

شهادت　دریم کال، ۳۳ مه ګڼه، پرله پسې ۱۳۳ مه ګڼه　سه شنبه ۱۳۹۰ هـ ل د لړم ۲۴ مه　د۱۴۳۲ هـ ق د ذوالحجه ۲۰ مه　د۲۰۱۱ م د نوامبر ۱۵ مه

لویه جرگهء عنعنوی صلاحیت های مشورتی دارد نه الزامی "سپنتا"

کابل، رسانه ها:
مشاور امنیت ملی افغانستان می گوید، در لویه جرگه یی عنعنوی هیچ گونه تصمیم الزام آور در مورد مشارکت ستراتیژیک میان افغانستان و امریکا گرفته نمی شود.
داکتر رنگین دادفر سپنتا که به روز دوشنبه در جلسه ی عمومی ولسی جرگه صحبت می کرد، گفت که لویه جرگه ی عنعنوی فقط به هدف مشوره در مورد امضای سند ستراتیژیک با ایالات متحده یی امریکا و چگونگی مصالحه با مخالفان مسلح راه اندازی می گردد.
در حالیکه موقف رسمی ولسی جرگه یی افغانستان مبنی بر غیر قانونی بودن لویه جرگه عنعنوی هنوز هم پا برجاست، مشاور امنیت ملی این کشور به نماینده های مردم، اطمینان داد که هیچ فیصله ای در این جر گه صورت نخواهد گرفت.
داکتر رنگین داد فرسپنتا همراه با معیین سیاسی وزارت خارجهٔ افغانستان برای دادن توضیحات در مورد سند استراتیژیک میان افغانستان وامریکا وبرگزاری لویه جرگه ی عنعنوی، به جلسه یی عمومی ولسی جرگه فرا خوانده شده بود.
به گفته ی آقای سپنتا، از دیدگاه حکومت افغانستان امضای سند همکاری های درازمدت استراتیژیک با امریکا به منفعت کشور است اما حَق تصویب و یا رد آن از صلاحیت های قانونی شورای ملی می باشد:
"لویه جرگهء که پس فردا افتتاح خواهد شد، صرف دارای صلاحیت های مشورتی بوده و هیچ نوع تصمیم الزام آور را نمی تواند اتخاذ کند."
پیش از این اعضای ولسی جرگه یی افغانستان با صدور مصوبه ی برگزاری لویه جرگه یی عنعنونی را در مغایرت با قانون اساسی دانسته و گفته بودند که در آن شرکت نخواهند کرد.
در جلسه ی عمومی روز دوشنبه ولسی جرگه نیز شماری از نماینده های مردم بر غیر قانونی بودن این لویه جرگه تاکید کردند و گفتند، در صورت موجودیت این شورا، راه اندازی چنین نشست ها ضیاع وقت و مصارف بی جا خواهد بود.
اما پس از بحث های طولانی در این مورد،

بقیه در صفحه ۴

د لویې جرګې په سیمه کې یو ځان مرګی بریدګر ووژل شو

کابل، رسنۍ:
یوازې څو ساعته وروسته له هغې، چې افغان امنیتي چارواکو د لویې جرګې د امنیتي پلان د افشا او د طالبانو لاس ته د هغې د پرېې وتلو ادعا رد کړه، د لویې جرګې د جوړېدو په سیمه کې د یوې ځان وژونکې حملې هڅه وشوه.
د کورنیو چارو وزارت وايي، چې حمله کوونکي مخکې له دې، چې خپل هدف ته ورسیږي د پولیسو له خوا وپېژندلې شو او له منځه یوړلې شو.
د دغه وزارت ویاند صدیق صدیقي رسنیو ته په خپلو خبرو کې وویل، چې حمله کوونکي هڅه کوله، چې د پل تخنیک محوطې ته ننوزي، چې په کې لویه جرګه جوړېږي:
"یو تن تروریست چې کوښښ یې کاوه چې د لویې جرګې محوطې ته ننوځي د امنیتي ځواکونو له خوا وپېژندل شو او په ډزو ووژل شو. دا یو ځان مرګی وو او چاودېدونکي مواد یې له ځان سره لېږدول چې له منځه لاړل."
د دې حملې هڅه په داسې حال کې، چې په لویه جرګه کې د ګډون لپاره د استازو د نوم لیکنې بهیر لا هم روان وو.
له دې حملې وروسته د کورنیو چارو وزارت په سیمه کې خپل امنیتي تدابیر لا سخت کړي او د سې شنبې له ورځې یې د لویې جرګې د جوړېدو په سیمه کې د ځینو واټونو د بندولو اعلان کړې.
له بل لورې د ولسمشر د ملي امنیت سلاکار د امنیتي ادارو د ځرګندونو برخلاف د لویې جرګې د امنیتي پلان افشا د اندیښنې وړ بللې ده، چې د دوشنبې په ورځ یې د ولسي جرګې عمومي غونډې ته له امریکا سره د ستراتیژیکو اړیکو په اړه معلومات ورکول وویل، که دا مسئله رښتیا وي او که نه خو د دوی لپاره د اندیښنې وړ ده او د مسئلې د تعقیب غوښتنه یې کړې:
"باید ووایم، چې دا ډول کارونه په هغو هېوادونو کې هم پېښېږي، چې زیات ځواکمن نظامونه لري او د هغوي حقیقي او غیر حقیقي اسناد افشا کېږي.
موږ په یو داسې هېواد کې ژوند کوو، چې په کې د دښمن نفوذ پنځم ستون جوړوي،

پاتې ۴ مخ

در کنفرانس دوم بن تعهدات جدید درازمدت به افغانستان سپرده خواهد شد

کابل، رسانه ها:
نماینده خاص آلمان برای افغانستان و پاکستان می گوید، جامعه بین المللی در کنفرانس بن در مورد افغانستان در رابطه با کمک های درازمدت به این کشور تعهدات جدید را خواهد سپرد.
نماینده خاص آلمان در امور افغانستان و پاکستان کنفرانس بن را برای افغانستان یک کنفرانس مهم و پر اهمیت خوانده گفت: درین کنفرانس جامعه بین المللی یک بار دیگر تعهدات خود را در قبال افغانستان از سر تازه می سازد.
مایکل شتاینر در سفری به کابل بعد از ملاقات با مقامات افغان در مورد آماده گی ها پیرامون کنفرانس بن، روز گذشته با جاوید لودین معین وزارت خارجه افغانستان در یک نشست خبری مشترک گفت: درین کنفرانس حدود ۹۱ هیات کشورها و

بقیه در صفحه ۴

د دودیزې لویې جرګې مخالفان د پاکستان او ایران په پلوۍ تورن شول

تاند، کابل:
د ولسي جرګې یو شمېر غړو وروسته له هغې د دې جرګې یو شمېر وکیلان په پاکستان او ایران پورې تړلي وبلل چې د دې جرګې د شنبې په عمومي غونډه کې یې یوځل بیا د تل په څېر له امریکا سره د اوږدې مودې د ستراتیژیکو اړیکو د تړون د لاسلیک کولو په خاطر د دودیزې لویې جرګې راغوښتل او جوړول د اساسي قانون پرخلاف، او د ولسي جرګې په شتون کې د دې دودیزې جرګې جوړېدل یو غیرقانوني عمل وباله.
د ولسي جرګې په غړو کې چې د یادې دودیزې لویې جرګې له جوړېدو سره مخالفت وښود صادقي زاده نیلي، فوزیه کوفي، محمد عارف رحماني، میرویس یاسیني او له قانون څخه د ملاتړ ائتلاف یو شمېر نور غړي شامل و.
خو د ولسي جرګې غړی کمال ناصر اصولي

پاتې ۴ مخ

دلویې جرګې ګډونوال څه وايي؟

دریم مخ

ایران به طالبان کمک میکند تا جنگ را در افغانستان ادامه دهند

رادیو آزادی:
ایران یک بار دیگر از سوی یک مقام امریکایی در افغانستان به حمایت از مخالفین مسلح در این کشور متهم شده است.
نماینده ارشد ملکی وزارت خارجه ایالات متحده در غرب افغانستان می گوید که ایران کمک هایی را به طالبان مسلح در افغانستان فراهم می کند تا آنان به جنگ در این کشور ادامه بدهند.
نماینده ارشد ملکی وزارت خارجه ایالات متحده امریکا در غرب افغانستان می گوید: اطلاعات آنان نشان می دهد که ایران با طالبان مسلح در این کشور همکاری می کند.
براد هنسن این مساله را به روز دوشنبه در یک نشست خبری در مقر سفارت امریکا در کابل ابراز کرد.
وی گفت: واشنگتن می خواهد تا میان افغانستان و همسایه هایش روابط نیک وجود داشته باشد.
به گفته ی آقای هنسن، بخش از تمرکز کنفرانس منطقوی استانبول نیز این بود که همسایه های افغانستان در زمینه ایفای نقش مثبت در پروسه های مربوط به افغانستان تشویق شوند.
"ایالات متحده امریکا می خواهد که

بقیه در صفحه ۴

دوکتور محمد انور

گفتنی های به اعضای لویه جرگه عنعنوی

با آنکه نمایندگی از ملتی در یک امر خطیر و مهم تاریخی کار ساده نیست اگر امضاء پیمان استراتیژیک با ایالات متحده امریکا کار بسیط میبود چنانکه با کشور هندوستان بود دولت افغانستان خیلی به سهولت بدون مشوره با کسی آنرا عقد میکرد. اکنون با توجه به این مسؤولیت بزرگ که به اشتراک ۲۵۰۰ نفر مجلسی بنام لویه جرگه عنعنوی هموطنان ما به آن دعوت گردیده اند سؤالی که نه تنها به ذهن هر افغان خطور میکند بلکه همه آنهائیکه درسراسر جهان ازحالت زار افغانستان آگاه اند از خود میپرسند که این مجلس به چه آجندائی دعوت شده است؟
تا آنجا که تغییر در نحوه دوام جریان صلح در کشور باشد هر افغان میتواند در هر کجائی باشد با حفظ هدف صلح برای کامیابی آن هر طریقه ایرا که دولت پیشنهاد نماید خیرخواهانه مورد مناقشه قرار دهد، اما آنچه به بحث روی پیمان استراتیژیک با ایالات متحده امریکا تعلق میگیرد اگر در حد مشوره هم باشد هرگاه این مشوره به ارزش مصارف که بالای این جرگه میشود در تصمیم گیری نهایی اثری داشته باشد به مصلحت شرکت کننده خواهد بود در صورتیکه در قضیه سرنوشت ساز که در حد مساس با محدودیت های استقلال کشور باشد نظر و مشوره علما، دانشمندان و اهل خبره ...

(بقیه در صفحه دوم)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د لويې جرګې د ګډون والو ايماني مسؤوليت

ټاکل شوېده د لړم په ۲۵ مه په کابل کې دوديزه لويه جرګه جوړه شي چې پکې به د هېواد له ګوټ ګوټ څخه تر دو زرو زيات کسان ګډون وکړي، دغه جرګه دې لپاره راغوښتل شوې چې له مخالفينو سره د سولې پر ميکانيزم او په افغانستان کې د امريکا اوږد مهالو پوځي اډو په اړه د هېواد ولسمشر حامد کرزي ته مشوره ورکړي.

إن شاء الله سبا ته لويه جرګه په رسمي ډول پېلېدونکی ده ددغې جرګې ګډون وال ايماني مسؤوليت لري چې خپله دنده په صحيح معنی وپيژني، د خپلې خاورې، عقيدې، ولس، کلتور، استقلال او ملي ګټې به له هر څه مقدم ګڼي، عارضي ګټو ته به په دائمي ګټو لومړيتوب نه ورکوي خپل معنوي ارزښتونه به له مادي ګټو، نه قربانوي، بلکې دواړه به په نظر کې نيسي.

اصلاً افغانانو لپاره تر ټولو مهم څيز د افغانستان خپلواکي، استحکام، اسلامي حکومت، ملي يووالې او ملي هويت دی، نه ښيئ دا له پامه وغورځول شي.

زموږ پيغام دا دی چې د جرګې د ګډون والو نظرونه بايد د مشورې په حد کې وي ځکه دوديزه لويه جرګه د فيصلو حق نلري.

دويم دا چې د ستراتيژيک تړون په اړه بايد د افغانستان مسلمان ولس عقايد، عنعنات، ځمکنی بشپړتيا، استقلال او ملي حاکميت په پوره ډول په نظر کې ونيول شي، او هر هغه څه چې زموږ د ديني او ملي ارزښتونو خلاف وي او يا زموږ استقلال او ملي حاکميت ته يې ضرر متوجه وي، په کلکه يې مخالفت وشي.

دريم دا چې د شريعت او افغاني قوانينو مطابق د افغانستان يو فرد هم د ولسمشر په شمول د جرم، جنايت او خيانت په صورت کې مصؤنيت نلري، نو پر ټولو هغو کسانو چې په افغانستان کې هستوګنه لري ددې هېواد قوانين دې وربانـدې تطبيق شي.

د افغانستان مسلمان ولس، بيدار دی او پر حالاتو ژور نظر لري، دهر هغه اقدام به په کلکه مخالفت کوي چې د اسلام خاورې او خپلواکي په خلاف اوچت شوې وي او د هر هغه اقدام به په کلکه ملاتړ کوي چې د افغانانو د معنوي ګټو ترڅنګ مجموعي ګټې په نظر کې نيول شوي وي.

لکه څنګه چې د نړۍ ټول وګړي د خپل هېواد خپلواکي، استحکام، ملي هويت، ملي يووالې د فکر او عقيدې آزادي غواړي، همداسې افغانان هم پخپل هېواد کې د اسلامي عقيدې اظهار او نفاذ غواړي. همداراز افغانان خپل دا مسلم حق هم غواړي چې د نورو آزادو هېوادو په څېر د خپلې خاورې او ولس ګټې خوندي وساتي.

بهرني هېوادونه دې د افغانانو دغه روا غوښتنه نه يوازې دا چې ومني بلکې ددې د تحقق لپاره دې عملي ګامونه هم اوچت کړي ځکه چې په افغانستان کې د تل پاتې امن او ثبات لپاره دا اړينه ده چې د افغانانو خپلواکي ته قانوني بڼه ورکړې شي دهغوی ملي يووالې او ملي حاکميت ته په درنښت وکتل شي له هر ډول لاسوهنو څخه ډډه وشي تر څو په افغانستان کې د جنګ جګړې اور مړ، او افغانان په قوي مټ وتوانېږي له دوستانو سره د دوستي اړيکي پياوړې او خپل هېواد ته امن او ثبات ور په برخه کړي.

هيله ده چې د جرګې ګډون وال به په پوره توګه دې اساسي ټکو ته متوجه وي.

لوی الله دې د جرګې ګډونوالو او چارواکو ته توفيق ور په برخه کړي چې حقه او صائبه لاره په ګوته کړي. آمين

گفتنی های به اعضای لویه جرگه عنعنوی

(ادامه از صفحه اول)

...از مجموعه ای که از آنها نمایندگی میکند با خود داشته باشد.

بر دولت افغانستان بود اولاً متن کامل این پیمان را که با توافق نهایی هیأت با صلاحیت هر دو کشور تهیه گردیده باشد به اطلاع عامهٔ مردم ما میرساند تا هموطنان ما و آنهائیکه به این مجلس حضور می یابند در برابر امر غیر مترقبه قرار نگرفته فرصت کافی دقت و غور همه جانبه در آن یافته و در آن باره ابراز نظر و مشوره می نمودند تا در فردائیکه دیر یا زود به سراغ آنها خواهد آمد ملت ما دست به گریبان آنها نیاندازد و یا تاریخ پر از فراز و نشیب این دیار در برابر آنها قضاوت نماید حداقل بهانه مشوره دانشمندان و آگاهان امور کشور تسلی بخش خاطر شان میگردید. زیرا کشور ما تا کنون که طی چند تهاجم جهانکشایان حریص میلیونها تن از فرزندان خود را فدای بقای عزت، کرامت، آبرو، دین و معتقدات و موجودیت خود ساخته است هر نوع بازی با آنرا خیانت تاریخی قلمداد خواهد کرد. به یاد باشد که همچو خیانت ها حتی بلبل های خوش آواز چون فیلسوف بزرگ مشرق زمین (علامه اقبال) را به هجو مرتکبین آن کشانیده است چنانچه فرموده:

جعفر از بنگال و صادق از دکن
ننگ آدم ننگ دین ننگ وطن
ناقبـول و ناامید و نامـــــراد
ملـــتی از کـار شـان اندر فساد

آنهائیکه میخواهند از دوام حضور نیروهای خارجی در افغانستان تسلط خود را بر مردم ما تحمیل نموده و روابط ناجائز مرموز مافیایی شانرا با دادن امتیاز به اجانب ادامه دهند نزد ما و مردم آگاه این کشور مردود اند. میخواهم کسانی را که از مداخلات ناروائی کشورهای همسایه و منطقه در وطن ما اندیشه دارند به این حقیقت تلخ متوجه سازم که حضور این نیروها همچنانکه در این ده سال بلائی را از این کشور دفع نتوانسته و در موجودیت آنها نقاط سرحدی این کشور هدف توپخانه و راکت باران همسایگان و پایتخت کشور طعمهٔ تحفه های انتحاری آنها شده است، پس از این کدام شری را از ما دفع خواهند توانست؟

مگر کشور فلاکت زده ما که قربانی خط اول جنگ سرد و در ده سال اخیر میدان بی ارزش جنگ نیروهای ۵۰ کشور خارجی در برابر به اصطلاح تروریزم بوده بر جامعه جهانی این حق را ندارد که سازمان ملل متحد با اجماع دست همسایگان را از مداخله در امور داخلی آن قطع نماید و یکبار دیگر ما را به پذیرفتن پایگاه های نظامی کشورهای مضطر گرداند که دندانهای همسایگان، کشورهای منطقه و رقبای بین المللی سیاسی، نظامی، اقتصادی شان بر ملت ما تیزتر گردیده و این خطه را مواد سوخت برای طرد، رد، شکست و هزیمت این قوتها گرداند، و اعتماد بر پشتیبانی و حمایهٔ قوتهای خارجی نظام را از رسیده گی به احوال مردم و خدمتگذاری به آنها، اهتمام به برگشت آبرومندانهٔ آنها از بیرون بی نیاز گردانیده برخلاف بر پیشانی هر اعتراضگر بر اجراات نارِوایی شان، هم رقبای سیاسی، اقتصادی و ... مهر تروریست زده و به قوتهای اجنبی راپورهای کاذبانه تهیه و تقدیم و با عملیات های شبانه پدر و مادر سرسفید، زن و طفل بی گناه او پامال و خودش با بی گناهی به عذابگاه ها کشانیده شده و پس از سلب حیثیت، روحیه و شخصیت دوباره رها گردد.

می پذیریم که نظام طالبانی در کشور ما انحصارگری خاصی داشت که عده زیاد از هموطنان، ما را مجبور به ترک دیار و خانه خود ساخته بود، ولی با تأسف ده سال بیداد قوای خارجی در این سرزمین که موجب قتل و کشتار هزاران زن و مردم و کودک بی گناه، بمباردمان های بی رحمانه و ناسنجیده، هتک حرمت و تجاوز به عفت و حیثیت این مردم آن هم بدست نیروهائیکه ارمغان دیموکراسی را به این سرزمین با خود آورده اند ایجاد، حمایه، تمویل و پشتیبانی از نظامیکه خود از عمق فساد در آن به فغان آمده اند مردم ما را به این نزدیک ساخته است که اگر مظالم طالبان را فراموش نکنند اقلاً دردهای آن تسکین یابد.

اشتراک کننده گان این جرگه هر که باشد به رأی و اعتماد مردم به آن راه یافته باشد و یا به فرمایش والیان و ولسوالان نظام بالاخره افغان است در برابر تاریخ کشور، استقلال سیاسی، دین، عقیده، عزت، آبرو و نوامیس ملی این خطه شهید پرور باید احساس مسؤولیت بنماید. با توجه به آنکه:

آنهائیکه با امضای معاهده ای ننگین گندمک و قرارداد دیورند ۴۰ سال استقلال سیاسی این کشور را در وابستگی به وایسرای بریتانوی هند گره زده بودند هم بهانه داشتند چه، اژدهای متجاوز روس از بالا به بلعیدن این سرزمین دهن کشوده بود و استعمار کهنه کار انگلیس خود را دایهء مهربانتر از مادر جلوه می داد و گماشتگان استعمار امیر مبهوت و روحیه باخته در زندان هشت سالهء پدر را به امضای آن تشویق میکرد و امیر عبدالرحمن که روزی هم عزت سنگر جهاد نصیبش نشده بود در موجودیت تهدیدهای روس بر همه هموطنان خود که یک روز را هم در سنگر جهاد سپری نموده بودند بدگمان و بی اعتماد بود بخاطر دوام و بقای به زعم خودش افغانستان چه راهی داشت جز آنکه قرارداد دیورند را امضا کند. اما از سال ۱۸۷۹ تا امروز کسی یافت نشد که امیر محمد یعقوب و امیر عبدالرحمن را ستوده باشد یا بر آنها نفرین نه فرستاده باشد.

برادر شرکت کننده بر لویه جرگه عنعنوی ! بنگر که تهدید این و آن و یا تطمع جهتی، تو را به آن وادار نه سازد که بر دوام حضور نیروهای اجنبی ومداخلهٔ هرکشوری باشد در امور داخلی کشورت که متضمن پامال شدن دین، ناموس، حیثیت و هویت اسلامی کشورت باشد و دست اجانب را در تهدید، تعذیب و شکنجه هموطنت باز گذارد و یا آنها را حکام حقیقی این سرزمین گرداند صحه بگذاری و یا مشوره دهی، و خود را در تاریخ پر از فراز و نشیب کشور به خیانت ملی بازی با استقلال و حیثیت افغانستان آزاد و اسلامی متهم گردانی.

دلويې جرګې ګډونوال څه وايي؟

عبدالله (کامه وال)

په کابل کې په جوړېدونکې څلور ورځنۍ دوديزه لويه جرګه کې له امريکا سره د افغانستان پر ستراتيژيکو اړيکو او دغه راز په هېواد کې د سولې پر ميکانيزم خبرې وشي.

د دې دوديزې جرګې د چمتووالي کمېسيون وايي، چې د ملي شورا او مدني ټولنې د غړيو، د هر ولايت د ولايتي شورا ۳۰ سلنه غړي، ديني علما، مخور شخصيتونه او د افغان کډوالو د استازيو په ګډون ۲۰۳۰ تنه به په دې جرګه کې ونډه واخلي، چې ۱۸ سلنه به يې ښځې وي.

خو په جرګه کې ګډونکونکي بيا بېلا بېل نظرونه او انديښنې لري موږ د جرګې دځينو ګډونوالو نظرونه را اخيستي او د شهادت درنو لوستونکو ته يې وړاندې کوو:

په جرګه کې دلغمان نماينده او د ولسي جرګې پخوانی غړی مولوی سيد رحمن وايي چې دجرګې داجندا نه هيڅ خبر نه دی او نه پوهېږي چې دجرګې مهمه موضوع څه ده؟ پکار دا وه چې دجرګې اجندا مخکې له مخکې دجرګې ګډونوالو ته ورکړ شوی وای، دې سره به هغه شکونه او انديښنې چې دا مهال د ګډونوالو سره موجودې دي نه وای، مولوی سيد رحمن وايي چې په جرګه کې ددوی ګډون پدې خاطر دی چې که خدای کول په دې جرګه کې دهېواد روان بهران ته يوه معقوله لار پيدا کړي خو که چېرې وپوهېدو چې جرګه کې رواني هڅې دهېواد په ګټه نه دی نو جرګه به ترک کړو.

دننګرهار قومي مشر حاجی عبدالکريم خان مومند چې ددې جرګې بل ګډونوال دی وايي ترکومه ځايه چې موږ اورېدلي نو پدې جرګه کې به پر دغو دوه موضوعاتو خبرې کېږي چې يو د امريکا سره دستراتيژيک تړون او بل له هغو ورونو سره چې مرور دي دهغوی دپخلاينې خبره ده خو لويه جرګه دافغانانو يوه عنعنوي جرګه ده چې په ستونزمنو حالاتو کې راغوښتل شوې او دستونزو په هوارۍ کې يې رغنده رول لوبولی دی نو موږ اميد واره يو چې دا ځل به هم خپل تاريخي رسالت ترسره کړي.

د لوګر ولايت د ښځو استازې زهره احمدزی چې په دوديزې لويه جرګه کې د ګډون لپاره کابل ته راغلې وايي، نه پوهېږي چې په لويه جرګه کې به په کومو موضوعاتو خبرې وشي، خو د رسنيو له لارې يې اورېدلي، چې په دې جرګه کې به د افغانستان او د امريکا دمتحدو وايالتونو ترمنځ د ستراتيژيکو اړيکو د تړون په اړه خبرې وشي.

احمدزی زياته کړه چې د جرګې د تيارېود کمېسيون لخوا ورته يو څه لنډ معلومات د دوديزې لويې جرګې د اجنډا په اړه ورکړل شوي، خو تراوسه يې نه دي لوستي.

هغې وويل: "دا يو تاريخي مسووليت دی خدای مه کړه، چې د ډيورنډ او يا د ګندمک د معاهدې په ډول مشکلات رامنځته نه کړي، په دې اړه بايد ټولې مادې شرح شي."

دوديزې لويې جرګې ته له کندوز ولايت څخه رابلل شوي استازي حاجي امان الله اتمانزي هم وای چې د جرګې د اجنډا په اړه بايد دوی ته له وړاندې پوره معلومات ورکړل شوي وای.

دی وايي چې د لويې جرګې د احتمالي اجنډا په اړه يې د رسنيو له لارې معلومات ترلاسه کړي، خو لا هم په دې نه پوهېږي چې د کومې موضوع په اړه به خبرې کېږي.

هغه په افغانستان کې د امريکا د دايمي پوځي اډو د شتون په اړه، چې په احتمالي توګه د جرګې له اصلي اجنډا څخه شمېرل کېږي او امريکا وايي دوی په افغانستان کې دايمي اډې نه غواړي وويل چې د جرګې ګډونوال بايد ددې اډو پر پايلو پوره غور وکړي او وروسته پرېکړه وکړي.

ده وويل چې که پوځي اډې د افغانستان امنيت باوري کړي، نو امريکا به د افغانستان د زيرمو د راوېستو په برخه کې مرستې وکړي، د بهرنيو لخوا به د خلکو د کورونو تلاشي او د ګاونډيو هېوادونو لاسوهنه به بنده شي، چې په دې صورت کې له دايمي اډو سره مخالفت نه لري.

د کندهار دښځو د چارو مشرې رقيه اڅکزی چې دې جرګې ته د ولايت د مقام له لوري ټاکل شوې وويل چې دوی ته ددې جرګې په اړه معلومات ندي ورکړل شوي.

سخو اڅکزی په اټکلي توګه وويل چې کېدای شي په دوديزه جرګه کې له افغانستان سره د امريکا د ستراتيژيکواړيکو، له مخالفينو سره د سولې پر ميکانيزم او همداراز ځينو نورو امنيتي مسايلو بحث وشي، خو تردې مهاله ورته په رسمي توګه د دولت لخوا هيڅ معلومات نه دي ورکړل شوي.

د اڅکزی په باور، امريکا په هره توګه چې وي په افغانستان کې دايمي اډې جوړوي.

د کندهار ولايت د نېش ولسوالی قومي مشر حاجي سيدجان خاکريزوال چې ددی ولسوالی د خلکو له خوا ټاکل شوی، په داسې حال کې چې د جرګې د اجنډا په اړه يې بې خبري وښوده زياته کړه: "له سبا څخه د پوهنې کار شروع کېږي، نو له سبا څخه به موږ ته درک را معلوم شي چې څه خبره شته او که نشته."

ده هم وويل چې بواځې يې د رسنيو له لارې د جرګې د بحث وړ موضوع ګانو په اړه معلومات ترلاسه کړي، خو په رسمي توګه لا تراوسه ورته څه نه دي ويل شوي.

ده وويل: "د کندهار خلکو راته ويلي، چې که د دوی شرطونه چې د دوی سر کونه به جوړوي، ملک به ابادوي او ددوی په داخلي چارو کې به لاسوهنه نه کوي، نو دوی د امريکا له دايمي اډو سره موافق دي."

دی زياتوي، چې که د دوی شرطونه ونه منل شي، نو دوی د امريکا له دايمي اډو سره مخالف دي.

خو ددې جرګې وياند صفيه صديقي وايي چې مواد تراوسه هيچا ته نه دي ورکړل شوي، نو کله چې غونډه پيل شي، نو موضوعات به د بحث په موخه د دې جرګې ګډونوالو ته وړاندې شي، تر څو پرې بحث او خبرې وشي او په پايله کې يې دولت ته خپلې مشورې وړاندې کړي.

په تشو خبرو د خاورې او عقيدې دفاع نشي کيدلې

محمد خليل

د افغانانو يو قوي متل دی چې مال له سر نه ځار او سر له ناموس نه.

افغانان خپل هېواد ناموس ګڼي، د تاريخ په اوږدو کې چې د خپلې خاورې د ساتنې لپاره خومره سرونه نذرانه کړي دي ښې نورو ولسونو دومره نه وي ورکړي.

د ناموس ساتنه او دهغه خدمت يواځې دا نه دی چې يواځې زنده باد نارې ووهلې شي او يا هم صرف دهغه د ساتنې لپاره وسله اوچته کړې شي، بلکې ددې ترڅنګ دا هم اړينه ده چې د هېواد اقتصاد، سلامتيا، امنيت، عدالت، تعليم او تربيه، زراعت، صنعت، دفاع، اخلاق، تهذيب او کلتور هم پياوړې کړې شي.

دا واقعيت بايد ومنو چې د هېواد د حريمونو موثره دفاع يواځې په هغه صورت کې کېدلې شي چې ولس قوي اقتصاد، ملي يووالې، په وسلو سنبال مجهز اردو او پوليس ولري، تکړه ساينس پوهان، اقتصاد پوهان، تجاران، صنعت کاران او په ټولو ځانګو کې ماهران ولري، لنډه دا چې هېواد يې په غټو غټو ځانګو کې خودکفا او د بل چا له ګدايي نه محفوظ وي.

لکه څنګه چې يو انسان د خپل ځان دفاع د غذايي انرژۍ له ترلاسه کولو پرته نشي کولې او خامخا د انرژۍ د ترلاسه کولو لپاره غذا ته ضرورت لري، همداسې د يو هېواد وګړي د خپلې قيمتي خاورې دفاع تر هغې نه شي کولې تر څو پورې چې ددفاع لپاره د ايماني قوت ترڅنګ د نوي زماني پرمختللې وسله، ټيکنالوژي، پياوړې اقتصاد، ملي يووالې او نور اړين امکانات ونه لري.

ډېر د تأسف خبره ده چې موږ افغانانو تراوسه په دې اړه ژور غور او فکر نه دی کړي ددې پر ځای چې بنسټيز کارونه وکړو برعکس فروعي کارونه پرمخ بيايو، د استقلال او د وطن د دفاع او پرمختګ خبرې خو ډېرې کوو مګر هغو بنسټيزو کارونو ته ملا نه تړو چې د هېواد او ولس د دفاع لپاره د ملا د تير مثال لري.

هر څوک پوهېږي چې په يو هېواد کې ترهغې امن نشي راتلې تر څو پورې چې اوسېدونکی يې د يووالې اور ورګلوې په تغر نه وي ناست، تر هغې د يو هېواد اقتصاد وده نشي کولې تر څو چې د هېواد امنيت نه وي تأمين شوې، تر هغې د صنعت، زراعت، تجارت، صحت، تعليم، ساينس، ټيکنالوژي او پوځي ډګر کې پرمختګ نه شي کيدلې تر څو پورې چې د يو هېواد اقتصاد نه وي پياوړې شوې، خو ډېر افسوس چې زموږ سياسي، قومي او مذهبي مشران ددغه حقيقت په درک کولو کې پاتې راغلي دي. هره ورځ د رنګ، قوم او ژبې پر بنسټ ډلې ټپلې زياتېږي، غولوونکې او جذباتي شعارونه زمزمه کېږي خو دې ته نه ګوري چې دا کار ملي يووالې شيرازه له منځه وړي او د هېواد دفاع له ګواښ سره مخامخ کوي.

که د افغانستان ټول وګړي او سياسي مشران واقعاً د خپل هېواد صحيح دفاع او پرمختګ غواړي نو لدې پرته بله هيڅ لاره پر وړاندې نه لري چې د فروعي سياست د پرمخ وړلو پر ځای اصولي او بنسټيز سياست ته وده ورکړي، قوي ايمان، ملي يووالې او ملي دريځ خپل کړي. د ګڼو ډلو ټپلو پسې د تللو پرځای دې په يو صف کې ودرېږي له هر ډول تفرقې او بې اتفاقۍ څخه ځانونه وساتي، ټوله پاملرنه دېته واړوي چې د خپل هېواد او ولس واقعي او بنيادي اړتياوې پوره کړي، د نوی زمانې نوی ضروريات وپيژني او دهغه د ترلاسه کولو لپاره بشپړې هلې ځلې پکار واچوي څکه چې د بري او پرمختګ راز په يووالې او پياوړي اقتصاد کې نغښتل شوي، که نه نو ددې خبرې انتظار دې وباسي چې نن وي که سبا بالاخر به دخپلې خاورې او عقيدې د دفاع توان به ضرور له لاسه ورکوي او تل لپاره به د غلامۍ زنځيرونه په غاړه اچوي. الله دې نکړي.

د اسلامي تاريخ لومړنی پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(اوه ويشتمه برخه)

س ۴۶۴: لومړی مسلمان سړی چې جغرافيايي نقشه پوه څوک و؟

ځ: لومړی مسلمان جغرافيايي نقشه پوه محمد بن موسی خوارزمي و، هغه به خپل کتاب (صورة الأرض) (د مځکې شکل) نقشه ښودلي ده.

س ۴۶۵: د مسلمان جغرافيا پوهانو نه لومړی سړی څوک و چې اسلامي دولت او د هغه حدودات يې رسم کړل؟

ځ: محمد بن موسی خوارزمي لومړی سړی و چې د اسلامي دولت حدودات يې رسم کړل.

س ۴۶۶: په منځنيو پېړيو کې د دقت، او علمي قيمت په لحاظ لومړی جغرافييايي قاموس کوم و؟

ځ: د منځنيو پيوړيو لومړی جغرافييايي قاموس (معجم البلدان) دی چې ياقوت حموي ليکلي او ترڅې دمه يې خپل علمي او ادبي قيمت ساتلی دی.

س ۴۶۷: په خلفاو کې چا لومړی د اسونو د سيالی حلقې جوړې کړی؟

ځ: ويل کيږي چې هشام بن عبد الملک لومړی خليفه و چې د آسونو د سيالی حلقې يې جوړی کړی، او د همدی خليفه په زمانه کې د آسونو په سياليو کې څلويښت آسپ سوارانو او د أميرانو آسونو برخه اخستي وه.

س ۴۶۸: د ټولن پوهني لومړی مخکښ څوک و؟

ځ: د ټولن پوهني لومړی مخکښ ابو زيد عبد الرحمن بن محمد بن خلدون د (العبر و ديوان المبتدأ و الخبر من العرب و العجم و البربر و من عاصرهم من ذوي التاريخ الأکبر) کتاب خاوند.

س ۴۶۹: لومړی سړی چې دا يي ثابته کړي چې (پلی / تناکه) انسان ته دوهم ځل نه پيښيږي څوک و؟

ځ: لومړی سړی چې دا يي ثابته کړي چې (پلی/تناکه) چا ته دوهم ځل نه پيښيږي هغه مسلمان عالم، فيلسوف او طبي ډاکتر ابن رشد اندلسي و.

س ۴۷۰: لومړی سړی په اسلام کې څوک و چې د بغداد ښار يی جوړ کړ؟

ځ: ابو جعفر منصور په اسلام کې د بغداد ښار لومړی مؤسس دی، هغه د شام، بصرې، کوفه او موصل نه انجنيران او ګلکاران راوړل او د بغداد ښار د تأسيس لومړی خښته يي په خپل لاس کيښوده او ويي ويل: (بسم الله و الحمد لله، الأرض لله يورثها من يشاء من عباده و العاقبة للمتقين) بيايي و ويل: د الله په برکت سره جوړ کړی، او دا په ۱۴۵ هجري کال کې و او په همدي اساس د بغداد ښار د تأسيس لومړی ډبره کيښودل شوه.

س ۴۷۱: کومه وينه ده چې لومړی په مځکه تويه شوه؟

ځ: لومړۍ وينه چې په مځکه توي شوه هغه د هابيل وينه وه کله چې هغه خپل ورور قابل و وژلو.

س ۴۷۲: لومړی شی چې په مسلمان باندي لازم دي چې د خپل غلام سره پري معامله و کړي څه شی دی؟

ځ: لومړۍ ښه معامله چې د غلامانو سره و شي، هغه دا دی چې هغوي ته زما بنده او زما وينځي و نه ويل شي، مګر داسي ورته و ويل شي: زما ځوانه او زما پيغلي. پيغمبر عليه السلام فرمايلي: د الله نه د هغه چا په هکله چې واک او اختيار يي ستاسو په لاس کې دي و ويريږی، اول دا چې ورته ونه وايي: زما بنده او زما وينځي، مګر و وايي زما ځوانه او زما پيغلي.

س ۴۷۳: د پيغمبر عليه السلام لومړی ليک چې پاچاهانو ته يي ليږلی و کوم و؟

ځ: د پيغمبر عليه السلام لومړی ليک هغه و چې د دحية الکلبي په لاس يي د روم قيصر ته ليږلی و چې په هغه کې راغلي و، بسم الله الرحمن الرحيم: د محمد، د الله د رسول له طرفه د روم مشر هرقل ته. سلام دي په هغه چا وي چې هدايت تعقيبوي، زه تاته د اسلام لپاره دعوت درکوم، مسلمان شه، په امن کې به پاتې شي، او اجر به دی دوه چنده وي، که چير ته دی شا واړوله او انکار دی و کړ نو د ټولو دهقانانو جرم به ستا په غاړه وي. اي د کتاب خاوندانو يوي کليمي ته را شي، او هغه دا چې له الله پرته د بل چا عبادت و نه کړو، او له الله سره شريک پيدا نه کړو، او د الله نه په غير په خپلو منځونو کې يو بل بادار و نه نيسو. کله چې د روم مشر د پيغمبر ليک خلاص کړ و يي ويل: اي روميانو زه ګومان کوم چې دا هغه سړی دی چې عيسی عليه السلام يي د راتګ زيری ور کړی، او که چيرته پوه شم چې دا هماغه سړی دی، زه به پخپله د ده د خدمت لپاره ورغلی وی، روميانو و ويل: الله لره دا مناسب نه دي دا کار په اميانو عربو کې پيغمبر پيدا کړي او موږ اهل کتاب پريږدي، د روم مشر و ويل زما او ستاسی تر منځ انجيل دی راځئ چې خلاص يي کړو، که دا هماغه و ايمان به پري راوړو. په دي وخت کې په انجيل باندي د سرو دولس ګوتي وي، او هر پاد شاه خپل قوم ته دا خبر ور کړی و چې کله که دا انجيل خلاصوي نو دين او دنيا به يي د منځه ځي. کله يي چې د انجيل نه يولس ګوتي واخستي او يوازي يوه پاتي شوه، يو ډله خلک پاڅيدل خپل ګريوانونه يي و شکول او ويښتان يي و ويستل او ويي ويل: نن ورځ زموږ زور ختميږي او ستا دين بدليږي و يي ويل چې مسلمانيږم، دوي ورته ګنځلي و کړي او چيغي يي و وهلي، بيا يي و ويل: اي روميانو ما غوښتل چې په دين باندي ستاسي ثبات و ازموم، بيا ورته په سجده پريوتل. د الله لعنت دي وي په بدو مشرانو او کافرانو. رښتيا ده چې خپله هم ګمراهان شول او نور يي هم ګمراهان کړل.

(نور بيا)

افغانستان د نړۍ په رسنيو کې

ملي جبهه د ټولو اقليتونو استازيتوب نه شي کولای

سټراتفور کامنټري:

سټراتفور کامنټري خپروني په خپله وروستۍ گڼه کې د افغانستان د ملي جبهې تر نامه لاندې د حکومت د يو شمېر سياسي مخالفانو د راټوليدو په اړه مقاله خپره کړې ده.

خپرونه ليکي: د ولسمشر حامد کرزي پخواني لومړي مرستيال احمد ضيا مسعود دوه ورځې دمخه د ملي جبهې د جوړېدو اعلان وکړ. د احمد ضيا مسعود تر مشرۍ لاندې دا جبهه ادعا کوي چې په تشکيل کې يې د عبد الرشيد دوستم او محمد محقق په گډون د ورو قومونو مخکښ مشران په کې شامل دي.

سټراټفور کامنټري وړاندې ليکي: دغې نوي سياسي ډلې هم د حکومت او هم د طالبانو په وړاندې مخالفت غوره کړی، د لوی جرگې جوړيدل غير قانوني بولي او د سولې د عالي شورا د مشر برهان الدين رباني په شمول د وروستيو ترورونو د عاملينو د نيولو غوښتنه کوي.

د خپروني په وينا په دې نوې جبهه کې زياتره مشران د شمال د ائتلاف غړي دي.

د مقالې ليکونکی زياتوي:

د شمال په ائتلاف کې چې وژل شوي برهان الدين يې مشري کوله د افغانستان د اکثره اقليتونو استازي شامل وو، خو ملي جبهه چې احمد ضيا مسعود اعلان کړې د ټولو اقليتونو استازيتوب نه کوي.

سټراټفور کامنټري وايي، د برهان الدين رباني په وژل کېدو سره د شمال په ائتلاف کې د قدرت خلا رامنځته شوي او ښايي د ملي جبهې جوړېدل د همدې خلا د ډکو په هدف وي.

گارډين:

گارډين ورځپاڼې بيا په افغانستان کې موبايل تيليفوني شبکو ته د اوښتو زيانونو موضوع څېړلې ده او ليکي: وروسته له هغې چې طالبانو په ځينو سيمو کې په دې خاطر چې څوک يې نړېوالو او افغان ځواکونو ته راپور ورنه کړي، موبايل تيليفونونه بند کړه، تيليفوني شبکو ته چې له ۲۰۰۱م کال راپديخوا يې خدمتونه لويه لاسته راوړنه بلل شوې، لوی تاوان ورسيد.

ورځپاڼه وايي، تيليفوني خدمتونه هم د افغانستان د جگړو قرباني شوي دي او دا خدمات د ناټو او طالبانو تر منځ د جگړې وسيله گرځيدلي دي.

ټايمز:

خو د لندن چاپ ټايمز ورځپاڼې بيا کاملاً جلا موضوع راخيستې ده.

ورځپاڼه وايي، په افغانستان کې د ژمي په پيل سره د سپيو د جنگولو کلنی موسم هم شروع شوی دی.

ټايمز د تيرې جمعې په ورځ په کابل کې د سپيو د جنگولو د يوې صحنې په اړه ليکي:

يو گڼ شمېر د مځکو خاوندان، سوداگر، قماربازان ،د اردو افسران ،جنډان، او کيسه بران دغلته د سپيو د جنگولو ننداره کوله.

د ټايمز ورځپاڼې د خبريال په وينا دا صحنه د نولسمې پېړۍ د هغو وختونو خاطرې تازه کوي چې همدغه شان خلک به په بريتانيه کې د سپيو جنگولو او د هغې د تماشې لپاره راټوليدل.

لويه جرگهء عنعنوی صلاحيت...

عبدالروف ابراهيمی رييس ولسی جرگه اعلان کرد که نماينده های مردم به عنوان عضو ولسی جرگه نه، بلکه می توانند به حيث افراد عادی جامعه در لويه جرگهء عنعنوی شرکت کنند.

در اين حال مشاور امنيت ملی افغانستان می گويد: رييس جمهور حق دارد در مورد مسايل بزرگ ملی با نماينده های مردم مشوره کند و لويه جرگه يی عنعنوی هم به همين منظور راه اندازی می گردد.

آقای سپنتا در پاسخ به انتقاد های برخی از وکيلان در مورد ايجاد احتمالی پايگاه های دايمی امريکا در افغانستان گفت که برای برقراری صلح و ثبات در کشور، آموزش بهتر نيروهای امنيتی افغان، مبارزه با تروريزم و مواد مخدر، نياز است تا ايالات متحده ی امريکا در افغانستان تاسيسات نظامی داشته باشد.

"ما نزديک به چهار صد هزار نيروی نظامی خواهيم داشت که اين نيرو ها به اسلحه و تعليم و تربيه ضرورت دارند. کسانيکه بخواهند جنگ را عليه القاعده، پايگاه ها و پناه گاه های اين شبکه ادامه دهند طبيعی است که به تاسيسات نظامی ضرورت دارند. "

اما مشاور امنيت ملی افغانستان می گويد: از اين تاسيسات و پايگاه ها تنها برای اهدافی کار گرفته خواهد شد که در سند استراتيژيک ميان دو کشور گنجانيده می شود، نه برای اهداف ديگر.

در کنار شماری از اعضای ولسی جرگه برخی از نهاد های سياسی نيز راه اندازی لويه جرگه ی عنعنوی را زمينه برای پياده کردن اهداف رييس جمهور خوانده و گفته اند که در آن شرکت نخواهند کرد.

گزارش های نيز وجود دارد که تعدادی از کشورهای همسايه ی افغانستان مثل ايران و پاکستان نيز در تلاش بر هم زدن لويه جرگه ی عنعنوی هستند.

در کنفرانس دوم بن تعهدات جديد...

نهادهای بين المللی اشتراک خواهند کرد.

نماينده خاص آلمان در امور افغانستان و پاکستان گفت: اين بار رهبری کنفرانس بدوش حکومت افغانستان خواهد بود و آلمان صرف اين کنفرانس را ميزبانی می کند.

وی گفت: "اين بزرگترين کنفرانس در مورد افغانستان خواهد بود که در شهر بن آلمان برگزار می گردد. ما توقع داريم که درين کنفرانس ۱۱۰۰ نماينده اشتراک کند و اين کنفرانس را که در پنجم ما دسامبر داير می گردد، انگلا مير کل صدراعظم آلمان و حامد کرزی رييس جمهور افغانستان، افتتاح خواهند کرد. "

کنفرانس دوم بن ده سال بعد از کنفرانس اول، برگزار می گردد. در کنفرانس اول بن که بعد از سقوط رژيم طالبان در پنجم ماه دسامبر سال ۲۰۰۱ ميلادی برگزار گرديده بود، اداره موقت افغانستان تشکيل گرديد.

مايکل اشتاينر در ادامه صحبتش گفت: اين باراهميت کنفرانس درين است که افغانستان در آن در مورد آينده خود يک طرح و پلانی را به جامعه بين المللی تقديم می کند و جامعه بين المللی هم در تطبيق اين پلان به نوبه خود تعهدات درازمدت را، تازه می نمايد.

وی افزود:

"ما در کنفرانس بن شراکت درازمدت جامعه بين المللی را با افغانستان تا سال ۲۰۱۴ ميلادی و بعد از آن، ايجاد می کنيم. ما برای اين شراکت درازمدت سعی و تلاش های جدی را به خرچ می دهيم و به اين باور هستيم که اين شراکت در بن جنبهء عملی را به خود گيرد.

ما نمی خواهيم که کنفرانس بن صرف در گفتار باقی بماند. زيرا مردم حرف زياد شنيده اند، بلکه می خواهيم درين کنفرانس روی دو موضوع، در مورد پلان آينده افغانستان و هم تعهدات عملی در قبال آن، حمايت جامعه بين المللی را بدست آوريم. "

نماينده خاص آلمان برای افغانستان و پاکستان در مورد اين که در آجندای کار کنفرانس بن موضوع گفتگوی صلح شامل است و يانه؟ گفت: در اين کنفرانس جامعه بين المللی در مورد پروسه صلح صحبت نمی کنند. زيرا جامعه بين المللی گفته اند که گفتگوی صلح بايد از سوی حکومت افغانستان پيشبرده شود و اگر اين مساله در کنفرانس بن گنجانيده شود، اين دو موضوع در تضاد قرار می گيرند.

مايکل شتاينر گفت: جامعه بين المللی از روند صلح توسط حکومت افغانستان حمايت می کند و در اين مورد تاکيد می نمايد که معضله افغانستان صرف از طريق نظامی حل نمی شود.

قبل ازين، گزارش های به نشررسيده بودند که گويا مساله گفتگوی صلح در صدر اجندای کنفرانس بن قرار دارد، اما جاويد لودين معين وزارت خارجه افغانستان گفت: کنفرانس بن کنفرانس صلح نخواهد بود و نه در آن آينده سياسی افغانستان بحث خواهد شد، بلکه کنفرانس بن روی روابط درازمدت جامعه بين المللی با افغانستان تمرکز خواهد نمود.

وی افزود:

"به اين موضوع بايد وضاحت کامل داده شود که اين يک کنفرانس صلح نيست، اين يک کنفرانس نيست که در آن روی آينده سياسی افغانستان گفتگو و بحث شود، کنفرانس بن چنين کنفرانس نيست که از احزاب سياسی دعوت به عمل آورده شود.

کنفرانس بن کنفرانس است که از جانب افغانستان يک هيات دولتی به رياست حامد کرزی در آن اشتراک می کند و با ديگر اشتراک کننده گان کنفرانس يکجا در مورد شراکت درازمدت جامعه بين المللی با افغانستان گفتگو صورت می گيرد. "

نماينده آلمان در امور افغانستان و پاکستان گفت: قرار است گروه تماس بين المللی در باره افغانستان در مورد آماده گی ها پيرامون کنفرانس بن در آستانه پايتخت قزاقستان گفتگو کند.

وی افزود، او با زلمی رسول وزير خارجه افغانستان جهت اشتراک در اين اجلاس امروز به قزاقستان سفر می کند.

د لويې جرگې په سيمه کې يو ...

د هېواد امنيتي اداري دا مسئله تعقيبوي، خو په هر حال دا د انديښنې وړ خبره ده او کوم حالت، چې موږ لرو داسې کارونه پکې زيات کيږي. "

د لويې جرگې د امنيتي پلان د افشا ادعا او د لويې جرگې په سيمه کې د خان وژونکې حملې هڅه پداسې حال کې شوې، چې د وسله والو مخالفينو په گډون په هيواد کې دننه ځينو کړيو له هغې سره خپل مخالفت څرگند کړی.

له دې سره جوخت ځينو افغان سناتورانو هم ويلي، چې دوی د پاکستان له يوې شمېرې څخه په دې جرگه کې د گډون په وړاندې د مرگ گواښونه شوي.

د کتونکو په وينا دغو ټولو ستونزو د لويې جرگې د امنيت لپاره يو ځلي بيا د افغان امنيتي ځواکونو هڅې له سترې ننگونې سره مخامخ کړي.

دوديزې لويې جرگې مخالفان ...

بيا له امريکا سره د ستراتيژيکو اړيکود لاسليک لپاره د دوديزې لويې جرگې جوړېدل د ملي گټو په خاطر اړين او ضروري بولي، او په وينا يې چې په ولسي جرگه کې ايراني او پاکستاني پلوه وکيلان د دې جرگې له جوړېدو سره مخالفت کوي او د دغو وکيلانو دا دريځ د گاونډيو هېوادونو روحيه پياوړې کوي.

دغه راز د ولسي جرگې غړې ارين يون هم په همدې نظر ده چې په ولسي جرگه کې ايران او پاکستاني پلوي وکيلان نه غواړي چې افغانستان ارام او سوکاله شي، نو له همدې امله د يادې جرگې له جوړېدو سره مخالفت کوي.

بل پلو که څه هم د دوديزې لويې جرگې پرانيستلو ته د گوتو په شمېر ورځې پاتې دي، خو د دې جرگې لومړي مرستيال خالد پښتون بيا د شنبې په عمومي غونډه کې وويل چې د جرگې د ۲۴۹ وکيلانو له ډلې تر دې دمه ۱۷۱ وکيلانو په دوديزه لويه جرگه کې د گډون فورمې ډکې کړي.

د پښتون په په ادعا ولسمشر کرزي د ولسي جرگې له رئيس عبدالروف ابراهيمي سره په ليدنه کې داډ ورکړی چې دوديزه جرگه به يوازې مشوره ورکوي، او له امريکا سره د ستراتيژيکو اړيکو د لاسليک په خاطر وروستی پرېکړه د ملي شورا د دواړو جرگو صلاحيت دی.

ياده دې وي چې تر دې دمه د سيمې يوشمېر هېوادونو او په ځانگړې توگه پاکستان او ايران لا له وړاندې په يو شمير رسمي او غيررسمي غونډو کې افغان دولت ته په ډاگه کړې چې دوی د افغان دولت له هغه اقدام سره مخالفت لري چې پراساس يې امريکا غواړي د اوږدې مودې لپاره له افغان حکومت سره د اوږدې مودې لپاره د ستراتيژيکو اړيکو سند لاسليک کړي.

د سياسي چارو افغان کارپوه احمد سعيدي وايي چې پاکستان د دې لپاره د افغانستان او امريکا د ستراتيژيکو اړيکو مخالفت کوي چې پاکستان د امريکا لپاره په سيمه کې همدا حيثيت له لاسه ورکوي.

ايران په ښکاره د امريکا او افغانستان د ستراتيژيک تړون مخالفت څرگند کړی او ويلي يې دي چې د خپل مخالفت دلايل يې د افغانستان حکومت ته په يوه ليک کې هم روښانه کړي دي.

ايران به طالبان کمک ميکند ...

افغانستان روابط خوب با تمام همسايه هايش به شمول ايران داشته باشد.

قسميکه در جريان هستيد، بخش عمده يی از نشست منطقوی استانبول روی اين می چرخيد که تمام همسايه گان افغانستان تشويق شوند تا در افغانستان در خصوص روند انتقال مسووليت های امنيتی به نيرو های افغان، مصالحه و ديگر پروسه های عمده سياسی در اين کشور نقش مثبت را ايفا کنند.

طوريکه جنرال پيترپوس قوماندان پيشين آيساف در افغانستان و ساير مقام های قوای ايتلاف گفته اند، ايران در برخی از فعاليت های منفی در افغانستان دخيل بوده است مثل کمک به طالبان مسلح تا در برابر مردم افغانستان بجنگند. "

پيش از اين نيز شمار ديگر از مقام های امريکايی به شمول کارل آيکن بيری سفير پيشين ايالات متحده در افغانستان از حمايت ايران از طالبان مسلح در اين کشور سخن گفته بودند.

ايالات متحده امريکا در حالی تلاش می کند که روابط نزديک تر با افغانستان برقرار کند که به اساس گزارش ها، برخی از همسايه های افغانستان از تقويت همکاری ها ميان کابل و واشنگتن ترس دارند.

ايران يکی از کشور های همسايه افغانستان است که مخالف حضور امريکا در افغانستان و منطقه بوده و به اساس گزارش ها کوشش می کند با تقويت و تجهيز مخالفين مسلح دولت افغانستان موانع را در برابر نيرو های امريکايی در اين کشور ايجاد کند.

با آنکه حکومت افغانستان به طور رسمی اين گزارش ها را تاييد نکرده است، اما يک مقام امنيتی افغان که نخواست نامش افشا شود ماه گذشته به راديو آزادی گفت که ايران راکت های زمين به هوا را در اختيار قوماندانان طالبان در ولايات کنر، نورستان و غزنی قرار داده است.

اما ايران اين گزارش ها را بی اساس و به دور از حقيقت می خواند.

د غه رنگ مو تاسي غوره امت گرځولې ياست چې پر خلکو گواهان اوسئ

اونيزه شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي څانگه

د امتياز خاوند: حزب اسلامي افغانستان

مسؤول مدير: عبدالله "کامه وال"

مرستيال مدير: عبدالخليل (محمد خليل)

د اړيکو شمېرې:

دفتر: ۰۲۰۲۵۶۱۲۳۲

مسؤول مدير: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱

مرستيال مدير: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونيزه د هر ليکوال او د نظر خاوند د ليکنو هرکلی کوي.

• د شهادت اونيزه حق لري چې د ليکوال ليکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د ليکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.

• رالېږل شوې مطالب نه مستردېږي. - يوازې سرليکنه د شهادت د اونيزې رسمي نظر دی.

ديزاين: خواجه وحيدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سيلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com